بسم الله الرحمن الرحیم

الله اکبر

ملی اسلامی محاذ

دافغانستان ملی اسلامی محاذ

# محاذ

Afghan Resource & Information Centre
AAIC

بسم الله الرحمن الرحيم

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ

وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۝

( سورة آل عمران : ١١٠ )

شما بهترین امتی که بیرون آورده شد برای مردمان میفرمایند

به کار پسندیده ومنع می کنند از ناپسندیده و باور میدارید خدارا .

دپښتنی دلومړي مخ عکس : په ځاځیوکې دهغې روسي الوتکې باډی چې مجاهدینو راغورځولې ده

بسم الله الرحمن الرحيم

الله اكبر

# محاذ

## در هر دو ماه یکبار نشر می شود

**سال دوم - شماره سوم - حمل ثور ۱۳۶۷ هجری شمسی**

۱ - سرمقاله

۲ - د جیلانیه دارالعلوم لخوا د یو شمیر مدارسو فارغانو ته بری لیکونه و ویشل شول .

۳ - ترخوچه زمونږ په شرایطو عبوری حکومت و نه منل شی بل هیڅ دول سازش د منلو وړ نه دی

٤ - د افغانستان د مجاهدینو د اسلامی اتحاد د عالی شورا لخوا د ثور اووه ورځ د مهاجرو په بیلا بیلو کمپونو کی وغندل شوه .

۵ - دثور د اوومی نیتی دغندنی په مناسبت دافغانستان د ملی اسلامی محاذ د مرستیال ، ډاکتر فاروق اعظم وینا .

۶ - پدی حساسه مرحله کی کوم شی چه روس د جنگ په ډګر کی بایللی دی غواړی چه د سیاست په میدان کی یی جبران کړی .

۷ - اساسات حکومت اسلامی .

۸ - دیالکتیک د تاریخ په لوړو ژورو کی .

۹ - سیاست شیطانی روس .

۱۰ - دکمونستانو جنایتونه او د هغوی کرغیړنی څیری .

۱۱ - پیروی از مذاهب اربعه برای چه ؟

۱۲ - از افغانها می آموزند .

۱۳ - عناصر صالح .

۱٤ - جنت او د هغه څینی نعمتونه .

۱۵ - مولانای روم (رح) .

۱۶ - خطرات تجزیه افغانستان .

۱۷ - سلاح و آموزش آن .

۱۸ - شهدای راه حق .

**مطالب عمده ای**

**که درین**

**شماره میخوانید**


**ادرس ما :**

**د افغانستان ملی**

**اسلامی محاذ**

**فرهنگی ریاست**

**د نشراتو لوی مدیریت**

**پوست بکس ۵۴۲**

**کیابیان - پشاور - پاکستان**

# د ثور اوومه او د افغان مسلمان اولس پاڅون

دا یوه څرګنده او جوته خبره ده چه مسلمانان تل د الحاد، بې دینې، ظلم، بې عدالتۍ او تیرئ په مقابل کې را پاڅیدلي او د دې هر څه په مقابل کې په میړانه او زړورتوب جنګیدلي دي. د مسلمانانو دغه سرښندنې او قربانۍ په خپل سر نه بلکه د هغوی د دغه راز پاڅونونو محرک داسلام د مقدس دین ارشادات دي، ددغه پاک او مقدس دین لارښوونې دي چه دخدای (ج) د کلام او د هغه دپاک رسول (ﷺ) د نیکو اقوالو په ذریعه ئې بشر ته رسولې او په هغه کې ئې ورته د نجات او خلاصون لاره په ګوته کړیده، هر هغه وخت چه مسلمانان د لادینۍ اوجهالت په تاریکوکې ګیرشوي اودراز رازبې عدالتیوپه وجه په هغوی ظلمونه شوي اوپاد کفارو او ملحدانو د تجاوز اوتیرئ ښکارشویدي پداسې وخت کې ئې نو بیا د قرآنې هدایاتوپه پیروئ سره دنجات لاربیا موندلي اود یوې داسې ټولنې خاوندان شوي چه په هغې کې ئې د اطمینان اونیکمرغۍ ژوند له سره پیل کړی دی.

پدې اساس کله چه په افغانستان کې د ۱۳۵۷ کال د ثور د میاشتې په اوومه نیټه د سره استعمار ګوډاګیانو دقدرت واګې ترلاسه کړې اوبیائې دخپلې الحادي مفکورې په پیروئ داسلام دمبین دین په تخریب لاس پورې کړ او زموږ اسلامي ټولنه ئې د لادینۍ تر تورې واکمنۍ لاندې را وستله هغه واکمنې چه ورور وژنه او وحشت عدالت بولي تقوی انصاف، عفت او اخلاق ورته هیڅ مفهوم نه لري دین ته دافیونو خطاب کوي او د هغه د محوه کو لو لپاره خپل ټول امکانات بکار اچوي. ددارنګه نظام تر بیرغ لاندې اوسیدل اوهغه ته بعیت ورکول چه داسلام مقدس دین بې ردوي او مسلمانانو ته د هغه په مقابل کې د اسلامي پاڅون یعنې جهاد امر کوي نو ځکه دافغانستان مسلمان ولس هم د خپل پخوانۍ او تاریخي ویاړ په درلودلو او د اسلام د سپیڅلي دین په کلکه پیروی سره ددغوبې دینه او ملک دښمنه عنا صرو په مقابل کې د جهاد په اعلانولو سره په ټول ملک کې یو اسلامي پاڅون پیل او په هر ځای کې ئې د کمونستانو په طاغوتي ځالو باندې حملې شروع کړې، خوشرنګه چه داجنګ دحق او باطل ترمینځ جګړه وه اودمسلمانانو په پاکه اسلامي روحیه باندې بنا وه ځکه نو پداسې حال کې چه روسي ګوډاګیان په مادي لحاظ ډیر قوي او په هر راز وسله سنبال و بیاهم په هر سنګر کې بری د مسلمانانو په برخه شو. ترڅو چه لږ ډې وکمونستان له پوره او کامله ماتې سره مخامخ شي خو روسانو پخپلې مستقیمې مداخلې سره وغوښتل چه هغوی د ډ ډمنا تابودۍ څخه بچ او اسلامي تحریک ته خاتمه ورکړي نو د هغې نیتې څخه بې د هر راز زور او قوت نه په په استفادې سره د داسې ظلمونو او نا رواو په کولو چه تاریخ بې ساری نلري بیا هم ونشوای کولای چه نه یوازې اسلامي تحریک ته خاتمه ورکړي بلکه د افغانستان یوه لویښت خاوره بې په خپله قبضه کې ونشوای ساتلی او تقریباً لس کاله کیږي چه روسان او د هغوی ګوډاګیان د افغان مجاهد اولس د شدید او میړنی مقاومت سره مخامخ او د تښتې لاره باندې ورکه ده. روسانو ته اوس دا حقیقت څرګند شوی چه د مسلمانانو پاڅون د اسلامي روحې په بنا پیل شوی او دا جنګ د یو حو طبقو تر منځ جنګ ندی. دوی اوس د افغانستان جګړه د ځان لپاره د ناسور زخم ګڼي او د هغې نه د وتلو اعلان کوي دوی چه خپله ماته او شکست پخپله سترګو وینې هرو مرو به له افغانستان څخه وزي ځکه زموږ د میړنی او با شهامته اولس اسلامي او ملي پاڅون ددې حقیقت څرګندوی دی چه په افغانستان کې به د اسلامي نظام تر قایمولو او د ملک تر پوره آزادي پورې جهاد ادامه ولري او د روسانو او د هغوی د ګوډاګیانو هرډول دسیسې او پلانونه به د هغوی ناولې هدف ته د رسیدو په لاره کې شنډوي.

# د جیلانیه دارالعلوم لخوا د یو شمیر مدارسو فارغانو ته بری لیکونه وویشل شول

د روان کال د وری د میاشتی په څوارلسمه نیټه د جیلانیه دارالعلوم له خوا د حضرت صدیق اکبر په لیسه کی د جهاد الاسلام تعلیم القرآن، مجاهد العلوم امدادالعلوم، اکبر دارالعلوم دارالعلوم هاشمیه، مدرسه هادیه او د نورو مدرسو فارغانو ته چی شمیر بی (۱۳۵) تنو ته رسیږو بری لیکو نه وویشل شول چه په دی کی ۶ تنه حافظان د قرآن او (۱۲۹) تنه د دینی علومو فارغانو و.

کنفرانس د سهار په لسو بجو پیل او د ماسپښین په دوه بجو پای ته ورسید. په دی کنفرانس کی یو زیات شمیر د مجاهدینو مشرانو مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو ورونو گډون کړی ؤ.

کنفرانس د کلام الله مجید د څو مبارکو آیتونو چه د جیلانیه دارالعلوم د استاد له خوا تلاوت شول پیل شو وروسته بیا د ملی اسلامی محاذ مشر پیر سید احمد گیلانی د خپلی وینا په ترځ کی د علم په هکله داسی وفرمایل.

همدا علم دی چه بشر ته د دنیا او او عقبی نیکمرغی وربخښی. همدا علم دی چه انسان د ربړونو او زحمتونو څخه ژغوری همدا علم دی چه په لوړه او ژوره کی په کار راځی نو هر هغه څوک چه علم لری او هغه تولنه چه د علم په گانه ښائسته وی هغه هر څه لری او د هر نوع تکلیف نه په امن او سلام کی وی

همدا راز محترم پیر صاحب علماؤ ته په خطاب کی وویل.

محترمو علماؤ! تاسو د اسلام د دین رنا یاست، نو لکه څرنگه چه د افغانستان جهاد ستاسو په اسلامی لارښونو پیل شوی ؤ همغسی به تر آخره استمرار او دوام ولری.

ترڅو مو چی د افغانستان د پاکی خاوری څخه د کفر او الحاد ناولی گردونه لیری او محو کړی نه وی او په زړه پوری اسلامی حکومت قائم شوی نه وی ترهغی به په دغی مقدسی لارکی سر ښندنی ته دوام ورکړو.

په دی کنفرانس کی جناب حضرت صاحب صبغت الله مجددی، د رهبری د مقام مشاورینو، محترم سید حکیم کمال شینواری، او عبدالستارصدیقی د پاکستان د صوبه سرحد چیف خطیب جناب مولانا رحمت الهادی او د چارسدی د اوتمانزیو د تحفیظ القرآن د دارالعلوم مهتمم جناب مولانا احمد علی خان د جیلانیه دارالعلوم آمر محترم شمس الرحمن وینا وی وکړی او د حضرت عمر ثانی دلیسی زده کوونکو او د جیلانیه دارالعلوم د طالب العلمانو له خوا نعتیه کلامونه او شعرونه وویل شول وروسته بیا د نجات ملی د جبهی مشر محترم صبغت الله مجددی د کنفرانس د اختتامیي دعا ولږ...

# ترڅو چې زموږ په شرايطو عبوري حکومت و نه منل شي بل هيڅ ډول سازش د منلو وړ نه دی

**بسم الله الرحمن الرحيم**
**الحمد لوليه والصلواة على نبيه وعلى اله وصحبه اجمعين اما بعد :**

قدرمنو انصارو ، ننګيا ليو مجاهدينو ، ګرانو مهاجرينو ، محترمو حضارو السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

په دې کې شک نشته چه د خاوند تعالى نعمتو نه بې شميره او بې حسابه دي او دبشر دقدرت څخه وتلی ده چه د متعال خالق نعمتونه په احصائيه کې راولي :

**وان تعدوا نعمة الله لا تحصوها** خو کوم نعمت چه د ټولو نعمتونو سردی او کومه عطيه او بخشش چه يوازی او يوازی د ذکر او قدر وړ دی هغه دعلم نعمت دی ، علم د هغه رحمت نوم دی چه انسان ته پرې لوړتيا او فضيلت ورکړ شوی دی ، همدا د علم قدرت او قوت دی چه انسان ئي د خليفة الارض په صفت ټاکلی دی :

**واذ قال ربک للملیکة انی جاعل فی الارض خليفة** دا چه دزمکې مخ د بشر په وجود ښايسته شو او بشر له ملائکو لوړ او افضل وګڼل شو د علم فيض او برکت ؤ .

خاوند تعالى په خپل سپېڅلی کلام قرآن عظيم الشان کې هم ډير ځايونه علم ستايلی او په مختلفو اعجاز آميزه عبارتونو ئي د علم مقام ته لوړتيا ورکړې او په ډير خير سره ئي ياد کړی دی : **ومن يوت الحکمة فقد اوتی خيرا کثيرا**

او هم ختم المرسلين حضرت محمد مصطفى «صلى الله عليه وسلم» په خپلو ګټورو ارشاداتو کې علم ستايلی دی او د ښځې دنيا لپاره يې يو ضروري او واجبي امر ګڼلی دی : **طلب العلم فريضة على کل مسلم و مسلمة .**

همدا علم دی چه بشر ته ددنيا او عقبی نيکمرغی وربخښي ، همدا علم دی چه انسان د ربړونو او زحمتو نو څخه ژغوری ، همدا علم دی چه په لوړه او ژوره کې په کار راځي ، نو هر هغه څوک چه علم لري او هغه ټولنه چه دعلم په ګاڼه ښايسته وي هغه هر څه لري او د هر نوع تکليف نه په امن او سلام کې وي .

څرنګه چه علماء په يوې ټولنې کې د سترګو حيثيت لري نو ددې وخت چه زمونږ علماوو خطر احساس کړ او وئي ليدل چه په افغانستان باندې يوه کافر او ملحد حکومت دانساني او بين المللي ټولو قوانينو په خلاف تيری او تعرض



پیرسیداحمدګیلاني دجیلانیه دارالعلوم لخوا فارغانوته دېرى لیکونو د وېشلو غونډې ته دوینا په حـــال کې

وکړ نو همغه وه چه محترمو علماوو داسلامي شریعت او د قرآني هدایاتو مطابق د جهاد فتوی صادره کړه چه په نتیجه کې ټول افغانان په یوه غږ او یوه آواز د قرآنکریم دغه حکم له تیارسی شول: **وجاهدوا فی الله حق جهاده** او د غه امر ته یې لبیک وویل؛ د سره کفر د محوې او وړکولو لپاره یې متې راونغښتلې په تش لاس راپورته شول خو په قوی ایمان او راسخ عزم ئې د **ومن یتوکل علی الله فهو حسبه** په کلکه رسۍ ئې ملا وتړله او په داسې ایمانداریه، میړانه او شجاعت وجنګیدل چه نړیوال ورته حیران شول.

مونږ په دې ویاړو چه لله الحمد د نړۍ په سر مونږ ته خاوند تعالی دا افتخار او امتیاز راکړ چه دوخت نمرود او ابرهه په شان ستر ظالم ئې زمونږ په څېره مات او مغلوب کړ.

محترمو علماوو! تاسو داسلام ددین رښتیا یاست، نو لکه څرنګه چه د افغانستان جهاد ستاسو په اسلامي لارښوونو پیل شوی او همغسې به تر آخره پورې استمرار او دوام ولري، تر څو مو چه د افغانستان د پاکې خاورې څخه د کفر او الحاد ناولی ګردونه لرې او محوه کړی نه وي او په زړه پورې اسلامی حکومت قایم نه وی ترهغې به په دغې مقدسې لارکې خپل سر ښندنې ته دوام ورکړو.

مونږ په افغانستان کې داسې اسلامي حکومت غواړو چه د اسلامي شعائرو او لارښوونو په اساس منځ ته راشي. مونږ د **وشاورهم فی الامر** په اساس اسلامی حکومت جوړوو چه د ټول ملت په خوښې او ارادې وي همداغیور او توریالی ملت دی چه ځان، مال او اولادیې د دغه عالي هدف او مقدس مرام له پاره قربان کړ د دوی حق دی چه خپل ملي زعامت او قیادت و ټاکي مونږ ته د قام منتخبو مشرانو او نقباؤ رای او نظر ډیر زیات قدر او قیمت لري، نو د اسلامي او عنعنوی روحی له مخې د مشرانو او د سپین روبو ګډون د مملکت په سر نوشت کې ډیر مهم او ضروری دی، دا چه موسیٰ (ع) د خپل قام څخه مشران او نقباء تعین کړل او د ټل لپاره رسول الکریم (ص) د قام د مشرانو مشورته قیمت ورکاوه نو پر مونږ لازمه ده چه دغه ټول غوره او منلی اساسات په راتلونکی حکومت کې ومنو او پرځای یې کړو.

مونږ د جینوا خبرې تر هغه ځای منلی شو چه زمونږ اسلامي او ملي

منافع پکښې خوندي وي او تر څو چه
زمونږ په شرایطو عبوری حکومت و
نه‌منل شي بل هیڅ نوع خواهش او
سازش د منلو وړ نه دی په دې برخه
کې دپاکستان داسلامی وروړحکومت
دریغ په کلکه تائیده وو او بل هر
دول حکومت جداً رده وو .

مونږ سوله غواړو چه د قرآنکریم
امر دی : **و ان جنحو اللسلم فاجنح لها** خو ایتلافی حکومت
نشوای منلی څکه چه داسی حکومت
د اسلام په فرهنگ او قاموس کی
وجود نلری او د منلو وړ نه بلل
کیږي .

توریالیو مجاهدینو وروڼو ! !
ستاسو د توري برېښ ؤ چه په ګران
افغانستان کی ئي د کفر او الحاد
توره پرده څیري کړه ، تاسو وی
چه‌د بدر دغازیانو تاریخ موراژوندی
کړ او نړیوال مو پوه‌کړل چه مادي
قوت د معنوی قدرت او اسلامي
جذبې په مقابل کی هیڅ او ناچیز
دی **ان یکن منکم عشرون صابرون یغلبوا ما تین** نو د
پخوا په شان خپل سنګر ګرم وساتی
اود محیل دښمن په چل ول او فریب
و نه غولیږی .

ګرانو مهاجرینو ! ستاسو هجرت
چه د خاوند تعالی د رضا لپاره ؤ
منظور او قبول شو دا دی د خاوند
تعالی رحم در منره مل او ملګری
دی ، ستاسو دمجاهدو زامنو د قربانۍ
په برکت د دښمن ملاماته شوه د
وړو او د زړو د خندې شو

**سیهزم الجمع و یولون الدبر**

خو د احتیاط ځای دی باید هوښیار
واوسو چه ددښمن دمکر او فریب په
دام او جال کی ګیر او بند نه شو .

قدرمنو انصارو ! دا چه قرآن
عظیم‌الشان ستایلی یاست د دغې سر
لوړۍ او افتخار تبریک در ته وایم
**و یوثرون علی انفسهم ولوکان بهم خصاصة** زه هم د یوه افغان
مجاهد مشر په صفت ستاسو دا قربانی
نښم هیرولی او د لوی خښتن تعالی
له دربار څخه در ته زیات اجرونه
او ثوابونه غواړم مولږ مجاهدینو
که د اسلام په لارکی سر ورکړ او
د اسمعیل ذبیح‌الله په شان مو د
خاوند تعالی رضاته ځان تسلیم کړ
خو تاسو هم دیوه ابر قدرت اوستر
شیطان روس ملحد دښمنی ته غاړه
کیښوده ، دابراهیم (ع) په شان مو
د دغه ملعون مخ ورتور کړ ،د هغه
له درکو او اخطارونو څخه ونه
داریدی او د خدای (ج) د رضا لپاره
مو افغان مهاجر ولس ته ځای او
سر پناه ورکړه .

زه د یوه مجاهد مؤمن په صفت
کلک ایمان لرم چه د خاوند تعالی
په نزد ماجور یاست څکه چه خاوند
تعالی دیر زیات مهر بان او اجر
ور کوونکی دی :

**ان الله لا یضیع اجر - المحسنین ط**

د خوشالۍ ځای دی چه د
مهاجرت د سختو شرایطو سره ، سره
رحیم او رحمان جل جلاله دا سعادت
را په برخه کړ چه یو شمیر د افغان
مجاهد ولس زامن د اسلامی علومو

د جبلانیه دارالعلوم یو تن فارغ خپل بری لیک ترلاسه کوي.

# د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد د عالي شورا لخوا د ثور اوومه ورځ د مهاجرینو په بیلا بیلو کمپونو کې وغندل شوه

د ۱۳۶۶ لمریز کال د غوئي دمیاشتی اوومه چې د ۱۹۸۸ کال د اپریل د میاشتی له (۲۷) سره سمون خوري د مجاهدینو د اسلامي اتحاد د عالي شورا په تصویب د افغانستان دملی اسلامي محاذ لخوا د یوی درندې غونډی په ترڅ کی د منډا په کیمپ کی وغندل شوه.

پدې غونډې کې د ملی اسلامي محاذ مرستیال او دافغانستان د اسلامي تنظیمونو د ځینو کمیټو په ریئسانو او نمایندګانو سر بیره زرګونو تنو مهاجرینو او مجاهدینو هم برخه اخستی وه غونډه د قرآن عظیم الشان دخو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل اوپیا وروسته دملی اسلامي محاذ د قضاء رئیس مولوی امیرزاده، د رهبری د مقام مشاور ښاغلی کمال شینواري د نجات ملی جبهی د شوونی او روزنی رئیس ښاغلی پیرزاده او دحرکت انقلاب اسلامی د شرایع الاحکام مولوی ملتان په خپل وارسره وینا وی وکړی.

دغونډی په آخرکی دملی اسلامی محاذ درهبری دمقام مرستیال ښاغلی فاروق اعظم دیوي اوږدی وینا په ترڅ کی دغه کړغیړنه ورځ وغندله او هغه ئې دافغانستان په تاریخ کی دتوری ورځی په نامه یاده کړه.

همدا راز ډاکتر فاروق اعظم دجینوا معاهده چې دافغانستان دمسئلې دسیاسی حل په برخه کی لاسلیک شویده ردکړه او دائی څ نه کړه چې زموږ مجاهدین د دغو فیصلو د تطبیق په برخه کی هیڅ راز مسؤولیت او مکلفیت ی ځکه چې مجاهدینو ته چې دقضیې اصلی اړخ دی هیڅ برخه نده ورکړ شوی او نه ورسره پدی برخه کی صلا او مشوره شویده.

د ډاکتر فاروق اعظم د وینا پوره متن د ګرانو لوستونکو د معلوماتو دپاره په همدې ګڼه کي نشر شوی دی.

د زده کړې افتخار لاس ته راوړو او خپلی مجاهدې جامعې ته بی لوی علمیان عالمان تقدیم کړل، زه په دې نسبت د افغان مجاهدې تولنی ته تبریک وایم اودمحترمو استاذانو څخه زیاته مننه کوم او په دې لار کی د دوی زیاته توجه او پاملرنه غوارم چه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي او دغه د جاري خیر لار ژوندۍ او روښانه وساتی.

په پای کی خپله وجیبه بولم چه د پاکستان د ملت، حکومت او په سرکی بی د صدر جنرال ضیاالحق څخه چه په اسلام مین شخصیت دی اوداسلامی ورورولۍ په روحیې بی مولوړ ته په ډیرو سختو شیبو کی لاس را کړ د زړه له کومی مننه او خوشالي ښکاره کړم او هم د محترم وزیر اعظم محمد خان جونیجو لیکی هیلی اوسلاتر په قدر یادوم او له دې کبله دپاکستان داسلامی ورور هیواد سرلوړی، موفقیت او کامیابی غوارم.

اللهم اعزا لاسلام والمسلمین بشریعتسید الانبیا والمرسلین و اهلک الکفرة والملحدین

امین یا رب العلمین

د ثور د اوومې نېټې د غونډې په مناسبت:

# د افغانستان د ملي اسلامي محاذ د مرستیال ډاکټر فاروق اعظم وینا

بسم الله الرحمن الرحیم

حمد او ثنا د الله پاک لره وي چا چه موږ انسانان او بیا مسلمانان پیدا کړي یو درود پر آنحضرت (ص) وي چا چه موږ ته د الله پاک د خلافت لاره را وښودله درود دې وي د ده پر صحابو کرام د چا په حق کي چه پخپله الله پاک فرمایلي دي چه دوی اشدا علی الکفار رحما بینهم دي درود و نه او رحمتونه دي پر ایمه مبارکانو چا چي پخپل نه ستړي کېدونکي زیار سره دا دین تر موږ را رسولی دی رحمتونه دي د اسلام او د افغانستان پر شهیدانو وی چا چه د خپلو وینو په بیعه او کولیو ته د خپلو سینو د سپر کولو په بیعه دا دین روښانه ساتلی دی او دا دین ژوندی ساتلی دی د لوی خدای رحمتونه دې په مهاجرینو وي چا چه صرف او صرف د الله پاک او د ده د دین د سربلندی پخاطر د زمانی دا سختی پر ځان گاللی دي رحمتونه د پرحا ضر مجلس وي چه چا صرف او صرف د لوی خدای پخاطر او د خپل حق ... د مر بوطو مسایلو د اوریدو په خاطر دلته را غلی دي اما بعد:

سورة فیل

ناعوذ بالله من الشیطن الر جیم .

بسم الله الرحمن الرحیم .

الم تر کیف فعل ربک باصحب الفیل .

الم یجعل کید هم فی تضلیل .

وارسل علیهم طیراً ابابیل ترمیهم بحجارة من سجیل . فجعلهم کعصف ما کول .

گرانو عزیزانو زه د اوو تنظیمو نو د اتحاد چه د اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان په نوم یادیږی د هغه په نماینده کی تاسی ته مخاطب یم . هغه ورځ د اتحاد عالی شورا فیصله وکړه چه د دی د باره چه زموږ وطن داران په وسیع تعداد سره د افغانستان د اوسنی جریانا تو څخه پوه وی او د ثور د کرغیړنی کودتا په باره او د او سنی وضع په هکله په وسیع پیمانه مطا لب واوروي شی نو دا فیصله یی وکړه چه د تنظیمو نو او وه مشران به مختلفو سمتو ... ته ... و ... بوطو کمپو او حوزو کی به خپلو ورونو ته خطاب کوی د دې وجه بله دا هم وه چه د ټولو ملگر و را جمع کول یو ځای ته په دې تو ده هوا کی او په دی روژه کی سخت کار وه دا فیصله وشوه چه موږ به د خپلو ورونو دروازو ته ورځو د دوی د کالی په منځ کی به د دوی سره د خپلو موضوعاتو خبری کوو زه په عین حال کی د جناب پیر صاحب سید احمد گیلانی په نماینده گی غوښتم چا چه زما څخه خواهش وکی چه زه د خپل تنظیم او اتحاد دواړو په نماینده گی خپلو ورونو ته مخاطب شم . پیر صاحب پر ټولو تاسی باندی خپل سلام وایی ورو نو د نن څخه پوره لس کاله د مخه روسانو په افغانستان کی د خپلی عقیدی یعنی کمونیزم او الحاد او په سیمه کی د خپل نفوذ خپرولو د پاره خپل گوډا گیان خلق او پرچم راواستول او د دوی خونړی کودتا په ذریعه یی و قدرت ته ورسول .

دې مخاصمې وطن فروشی ډلی زموږ په مسلمان ملت هغه ظلمونه د خپلو

روسي باداړانو په مشوره او د هغوی د خوشحالو له پاره وکړل چه چنګیز او هلاکو یې د خلکو له یاده وا یستل دوی ملایان او پوهان مړه کړل دولس مشران او سپین ږیري یې تحقیر و توهین، بندیان او لري تم کړل.

دوی د خلکو پر نوامیسو تجاوز وکړ. د خلکو دارایي ګانې یې لوټ کړې او زموږ د مؤمن او غیرتي ولس د ځورولو څخه یې خوند وا خیست د عزت داسې کورخو به نه ؤچې دوی بې عزته نه کړ. او د علم داسې یوه ډیوه خو هم نه وه چه دوی کافرانو یې د مړ کیدلو هڅه نده کړې حتی خواران غریبان او بزګره طبقه یې د چاپه نوم یې چه د کورکالي او د ودې ناري وهلې هغوی هم صرف په دې خاطر چه دوی مسلمان وو وځورول. مړه یې کړل دځېلو کورو څخه یې فراره ګړل او په نورو وطنو کې یې دربه دره کړل تاسې وګورۍ چه دا زموږ داو ستاسې په کډوالو کې چه دا دری ملیونه مهاجر په پاکستان او دوه میلیونه په ایران او نوره دنیا کې آواره دي څو مړه یې بدایان وو داخو هم دا مظلوم ملت وو، دا خو هم دا غریبان وو، د چاپه نوم چه دوی بې ناموسانو د چا په نوم چه دوی خو نخوارانو غوښتل تجارت وکړي. خو الله پاک دوی رسوا کړل، خوالله پاک دوی و شرمول. زموږ مسلمان ولس د خپلې پاکې عقیدې او اسلامي وطن دفاع په منظور ددې ملحدانو پر مقابل کې راپورته شو هرځای یې مقاومت پیل کړ. مهاجرت یې هم ددې دپاره وکړ چه جهاد ته ځانونه آماده کړي په صراحت سره وایم چه زموږ د مهاجرینو هر کیمپ چه څوک وینې داد جهاد یو عظیم فولادي سنګر دی.

د جهاد یو مصدر دی. د جهاد یو داسې ځای دی چه جهاد ته درګرده خپل خلک استوي او جهاد یې تول ساتلی دي ولله الحمد د کمونستانو په مقابل کې زموږ د مؤمن ولس مقاومت زور وموند او د خلقیانو د شلو میاشتو حکومت او وحشت سره نژدې و چه دا ملحد حکومت ترپښو ولویږي. روسانو هرڅه تلاش چې وکړ څو تره کي او حفیظ الله لعین پر قدرت وساتي خو نه یوا ځې یې دا کارونه کړای شواي بلکه هغوی یې خپله نیو پربل پسې ددوی د ناکامي په وجه مړه کړل بله چاره یې نه وه چه په افغانستان کې د کفر او کمونزم دبقا د پاره په خپله روسان مستقیماً مداخله ونه کې یکې یوه چاره یې فکر کاوه چه د دوی د کمونزم د بقا دپاره ددوی مستقیماً مداخله ضروري وه هغه وُ چه د ۱۳۵۸ کال د جدي په شپږمه یې اضافه تریولیک سور پوځ پر افغانستان را مرش کړ په دې امید چه یو خو په خلقي حکومت پرېږدو ودروي او بل زموږ

جهاد را وټکوی او دریم دا چه ځان
په تودو اوبو او د خلیج تیلو ته
ورنږدی کړی خو زموږ مسلمان ملت
پر لوی خدای (ج) باندی په توکل
سره خپل جهاد تر پخوا هم تیز کړ
اودادی بلاخره یی روسان ددی دومره
قوت اووحشت سره سره په افغانستان
کی را په گونډو کړل . بی له دی
چه کوم بری اویا د کوم مقصد له
پاره چه و هغه ترلاسه کړی او د
افغانستان څخه په شرمنده گی او
خجالت وځی .

عزیزانو ! د ثور اوومه زموږ په
تاریخ کی یوه ډیره درد ناکه توره
ورځ ده .

د دې شومی ورځی څخه په
اختصار سره زه تاسی ته عرض کوم
چه دا نتایج بی راووتل . د یونیم
میلیون بی گناه افغانانو شهیدان
کیدل ، اضافه تر پنځه میلیونه
وطنوال د خپلو کورو پر پریښودلو
مجبور کیدل ، په کاونډیو او نورو
هیوادو کی آواره او پریشانه کرځیدل
دایی یوه ثمره وه دوه نیم میلیون
کسان زخمیان کیدل دایی بله ثمره
وه . زموږ د اتو لکو ښځو کونډیدل
او دری نیم لکه زموږ ماشومان
شهیدان کیدل دایی بله ثمره .
لس کاله زموږ پر پاکی خاوری
د دوی ناولی قدمونه پاتی کیدل
زموږ ښځلس میلونو نفوس څخه

د دوولس نیم میلیونو کسانو مستقیماً
متضرر کیدل دایی بله ثمره .

ورونو ! خو د دې ټولو تکالیفو
سره دغی د ثور کودتا ځینی نوری
نتیجی هم ورکړې هغه دا چه لس
کاله مسلسل زموږ د مسلمان ولس
پاک جهاد په تش لاس صرف او صرف
د الله پاک (ج) د رضا او د خپل
اسلام د ساتلو دپاره د زمانی دلوی
شیطانی طاقت سره په پوره میړانه او
ثبات ادامه پیدا کیدل دی . دې
کودتا دا حال هم راوستی چه دا
ملت لس کاله د زمانی د لوی طاقت
سره د جنگیدو توان ورته پیداکړی.
دوهم روس دا د زمانی لوی وحشی
طاقت د دی ثور کودتا په نتیجه
کی زموږ د ملت د قیام په نتیجه
د دی مسلح جهاد په نتیجه کی پر
گونډو کیدل . دریم ، دا تاسو
مجاهد ولس هغه فارمول او د ټولی
دنیا هغه نظریه مو دړی وړی کړه
کوم چه دنیا به ویل چه روس کوم
ځای ته ولاړ شی بیا پرشا نه ځی .

د دی لس کلن جهاد یوه نتیجه
دا هم شوه چه د روس دا تیوری
دا فلسفه هم ماته شوه چه کوم ځای ته
د روس فوځ تللی دی بیا چه مطلب
ته رسیدلی نه دی شاته ندی تللی .

تاسی خلکو ! و الله الحمد دا سور
پوځ په بی عزتی او بی شرمی شاتلو

ته بی له دی چه جزئي ترین
هدف ته ورسیږی مجبور کړ .

د دوی څخه مو مړی و کړل
دوی مو بی عزته کړل دوی مو
داسی دنیا ته بی عزته کی چه وگوره
دا یو غټ طاقت د دی کوچنی ملک
د یوه کوچنی ښار د قابوکولو توان
نلری نو داهم د دی جهاد یوه نتیجه
شوه .

څلورم : زموږ اوستاسی مقاومت
یوار بیا دنیا ته ثابته کړه چه افغان
قوم د چا غلامی نه منی او دا ملت
قابل تسخیر ندی . پرون غرب ته
په میړانه تاسی دا ثبوت ورکړی و
او نن مو بیا شرق ته دا ثبوت وکړ
پس تاسی هغه ملت یاست چه دنیا
باندی د څمکی پرمخ باندی چه یو
انسان دی هغه ته چه په مشرق کی
دی که په غرب کی دا امتحان ورکړ
چه د دی قوم شمله اوچته ده داغیر
قابل تسخیر قام دی دا فقط یواځی
د لوی خدای (ج) بندگی کولی شی
او بس ! د بل چا بندگی ته تیاره
نه ایږ دی .

پنځم : لکه پرون چی د انگریزانو
ماته زموږ دلاسه د انگریزی امپرا-
طوری د شکست ابتدا شوه . دا
دول به انشاء الله تعالی په افغانستان
کی د روسانو شکست د دغه شیطانی
امپراطوری د دړی وړی کیدو علامه

وی زه یقین لرم چه د مجاهد په لاس چه دی روس شکست خوړلی دی د روس دا شیطانی امپراطوری به انشاء الله تعالی دلته مضمحل کیږی او ټول اسیر ملتونه به ځنی خلاصیږی .

شپږم : په افغانستان کی د روسانو شکست په ټوله نړی کی د کمونیزم شکست دی .

ټول کمونستی احزاب به نور فکر وکړی چه روسی وخپل بغل ته په یوه ډیر کوچنی مملکت کی دټول قوت سره پرور . واوښتی هغه ئي قا بو نشوای کړ ی او هغه ئی تسخیر نشوا ی کړای . موږ چی د روسانو ځخه لری یو په نورو ملکو کی پراته یو په زرهاو میله ځنی لیری یو . دوی به ځنګه د خطر او ضرورت په وخت کی زموږ حمایت وکړی .

ای مجا هد وروره! تا د دنیا د کمو نیزم پر سر یوه ضربه وارده کړې ده بیا دی په ټوله دنیا کی کمونستی احزاب له ځا نه سره فکر وکړي چی نور روسان قا بل ا کتفا ائې یوالا ن نه دی نو دخطر په وقت کی دوی پرېږدی او د دوی مبارزه هماغسی نه کامیابیږی لکه پخوا چه وه .

اووم : په ټ.و له نړی کی دمسلمانانو شمله دا تاسو مجاهد ینو الحمد لله اوچته کړیده .

دټول دنیا دمسلمانانو روحیات تاسو اوچت کړی دی او پر ټولو خلکو ، مسلما نا نو کی مو د خپلو حقه حقو قو داحیاء یوه روحیه پیدا کړیده .

زه به تاسی ته خپل یو شخصی سر گذشت بیان کړم په ۱۹٦۷ میلادی سنه کی یو وښت کا له پخوا چه کله اسرائیلو پر عربو حمله وکړه او دهغوی ځمکی یې ونیولی نو په هغه وخت کی زه مر بو طو مر اجع ته ولاړم او دجهاد د پاره می ثبت نام وکړ .

ما وویـل : چه زه ځم او د اسرائیلو په مقابل کی دخپلو فلسطینی رونو سره جنګیږ م په هغه وخت کی دحکومت پالیسی داوه چه څوک یې نه استول او زه پدی کار کامیاب نشوم .

اتفا ق داسی راغی چه څو کاله بعد زه فلسطین ته ولاړم هلته د هغوی سره یو ځا ی شوم په کومه جذبه چی زه ورغلی وم او په کومه جذبه چه مادوی ولید ل نو.ما هلته وکتل چه قطعاً هیڅ یو بیرغ داسلام په نوم هلته موجود نه و .

ماوکتل چه داسلام په نوم هیڅوک جهاداو مبارزه نه کوی .ما یاسرعرفات ولیدی ما ابو جزاد چه هغه ورځ مړ شو ماولدی ، نایف می ولیدی حوا طمعه می ولید ، جارج حبش می ولید د ټی ټولو چی خیالات در لودل او په سر ی به هغه و چی ویل به بی زه یو غیر اسلامي نظام غوارم .

دانن چه ورته ګوري مظاهری دی او هلته داسرائیلو په ضد باندی مبارزې روانی دي نو چه تلویزیون ته وګوری معلو ماتو ته وګو ری نو تاسی ته به ښکاره شی چی بیرغونه څرېږی او شعا رونه پری لیکلی دی .

الله اکبر ـ لا ا لا لله محمد رسول الله د اول ځل د پاره فلسطین په جهاد کی دفلسطین په مبارزه کی هر څه چه ورته وایاست دتاسی دجهاد پر برکت د کلیمی شعار اوچت شو .

داول وار دپاره دا تاسی مجاهد ینو په هغو خلکو کی دا روحیه پیدا کړه چه اسلا م یوه د کا میا بی لاره ده هغو ی پخوا په غیرو لارو کی خپله کامیابی پلټله هغوی نورو کورو ته پناه وروړله هغوی نورو فکرو ته پناه وړله اول واری دا تاسی خلکو په هغه سرز مین کی داسی فکر راپیدا کی چه اسلام یو قوت دی او دا دکا میا بی راز دی .

نوځکه د و ی مطمئن شول ستا سی په جهاد سره ، ستاسی پدی مبا رزی سره پد ی سره چه تا سی صرف د الله (ج) په تو کل با ندی روس پر ګونډ و کړ . نو دوی هم د الله ا کبر چیغه جګه کړ ه . دوی خو هم مسلمانان وو خو پخوا

هم مسلمانان وؤ پښوا بې امید نه وېښوائی فکر کاوه چې کامیابۍ سر او راز په نورو فکرو او نورو دروازو کې دی . خو چې کله تاسې وروښودل چه دکامیابۍ راز پدی کې دی چه ته الله اکبر ووایه پدی کې دی چه ( ایاک نعبدو و ایاک نستعین ) ووایه نو دوی بیا دا شعار اوچت کړ او وئی ویل .

لااله الا الله محمد رسول الله په ټوله دنیا کې تا یوه ولوله راپورته کړه . په ټوله دنیا کې تا دا احساس راولاړ کړ چه د اسلام د کامیابۍ یو راز دی . د دنیا د کامیابۍ یو راز دی د آخرت د کامیابۍ یو راز دی نو زه وایم ورو ره ستا دې مبارک شي تا یو ډیر غټ رسالت سر ته رسولی دی ته د دی ټولی دنیا په حقیقت کې رسول شوی . پدی زمانه کې بله خبره دا ده چه هیڅ یو کفری طاقت به بیا په هیڅ یو مسلمان ملت باندی په داډه زړه حمله و نه کړي دافکر ستا جهاد د هر یو کفری طاقت ته پیدا کړی دی . چه گوره په یو مسلمان ملک حمله ونکړي چه په دوي کې د کامیابۍ یو داسې راز پروت دي چه که یو واري ئې د الله اکبر تکبیر ته لاس واچوؤ بیا به زه ضرور ماتیږم او دده په مقابل کې به خوار او ذلیل کیږم .

نهم : او بالاخره افغانستان به همیش یو آزاد او مستقل هیواد وي بیا به هیڅ طاقت په دنیا کې ددی ملک نیولو ته زړه ښه نکړي . که دا د روس سرنوشت د خلکو په یاد وؤ بیا به د افغانستان نیولو ته زړه ښه نکړي او انشاء الله او تعالی دا اوسنۍ سختۍ چه په موږ او تاسې تیریږی بیا به موږ او زموږ اولاد ته څوک په بد نظر و نه گوري قدرمنو عزیزانو ! راځم اوس د افغانستان موجوده سیاسی حالاتو ته په کومه مسأله کې چه زما یقین دی تاسې دلچسپی لری او غواړی تاسې څه خبری واوری . په اوس ورځو کې د ژینو د کنفرانس د جینوا د معاهدې مسئلی ډیرې تودی دی د هغه په مسأله زه عرض کوم چه دا معاهده د دې میاشتی په څوارلسم په ژینو کې د امریکې ، روس پاکستان او د کابل د گوډاگی رژیم ترمنځ امضاء شوه . موږ د دی مذاکراتو مخالفت له ابتداء څخه کړی ؤ . هغه ته موږ له ابتداء څخه په شک کتل او هغه موږ د افغانستان د قضیې د یو جامع او عادلانه حل لپاره مؤثر اقدام او لاره نه ده بللی نو طبعي خبره ده چه د داسې معاهدې په احترام او عملی کیدو اوس هم مکلف نیو موږ ته دا معاهده په دی خاطر د منلو وړ نه وه چه اوس ئې دلائل وایم موږ ولی دا معاهده نه منله ؟ موږ د هغې حمایت ولی نه کاوه او اوس ولی د هغې معاهدی په موادو د هغې په احترام او د هغې په عملي کیدو مکلف نه یو . اول : د دی کنفرانس چوکاټ داسې تعین شوی ؤ چه دا د ملل متحد د منشور په کوم کې چه ټولو ملتو دستخط کړی دی په شمول د روس، پاکستان او امریکې ، د هغه منشور خلاف دی په هغه منشور کې په صراحت ذکر دی چه د ملتو نو د سرنوشت حق پخپله د ملتونو یو مسلم حق دی په دی معاهده کې زموږ د ملت سرنوشت ته هیڅ اشاره هم نده شوې . دمعاهدې په څلورواساسی اسنادو کې دمعاهدی په څلورو بندو کې چه د روس وتل دمهاجرینو تگ د افغانستان په داخلی چارو کې نه مداخله او بین‌المللی تضمینات دي په دی یوه کې هم زموږ دملت سرنوشت موضوع نه ده مطرح شوې نوځکه موږ دانده منلی .

دوهم : زموږ دریځ داؤ اودادی چه ملل متحد مسلسلو فیصلو داحکم کړي دی ، دهغو مسلسلو فیصلو چه دادژنیو کنفرانس هم دهغه په احترام مجبور دي هغوی دا سې فیصلی کړي دی چه ددی ملت سرنوشت حق به ودی ملت ته ورسپارل کیږی له

افغانستان څخه به روس بې قیدوشرطه اوفوري وځي‌اود قضیې دعاجل حل د پاره به دملل متحد سر منشي دتولو خواو سره تماس نیسي ورونو دا یو کار هم په دې معاهده کې ونشو .

زما ورونو !

ما درته وویـل چه یو د دې شیانو څخه چې په دې معاهده کې دي احترام‌ئې ونشو ؛ نه پدې‌معاهده کې زما اوستا دسرنوشت حق ته‌که چاپه‌سم نظر وکتل‌نو روس‌فوري‌وځي اوس خو په نهو میاشتو کې وځي‌هغه هم‌بې له قیده نه وځي .وبلې‌یې دي‌چه زه به په هغه شرط وځم چه دا معاهده امضاء شي اوله بلې خوا دملل‌متحد سرمنشي هم خپله وظیفه اجرا کړي نه ده . د روس دخوشحالیدو دپاره ئې دذیعلاقه خوا وڅخه‌چه یو مولږ یو نادیده ونیولو . آیا مولږ دقضیې یو طرف نیو ؟

په دې افغانستان کې آخرجنګیږي څوک دوی دروس دخوشحالیدودپاره روس دصحنې څخه ویستی اودروس د خوشحالیدو له پاره ئې زه هم له صحنې څخه‌ویستلې‌یم بس دملل‌متحد سرمنشي پخپله دملل متحد دمنشور د ملل متحد د فیصلو څخه خلاف ورزی کړیده .

کوم کسان چه پدې معاهده کې داخل دي هغوی دملل‌متحد دمنشور او د ملل متحد د فیصلو څخه خلاف ورزی کړیده . زمونږ د ملت مسلم حق ئې نادیده‌نیولی دی ځکه مونږ د دې معاهدې احترام نه کوو او د هغې په منلو مجبور نه یو .

ورونو ! روسانو ددې پرځای چه په دې معاهده کې بې دا تعهد کړی وای چه بیا به د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله نه کوي او دخپلو پوځونو د وتلو سره سم به خپل مزدور حکومت چه دوی‌دخپلو ټانکونو په سرو راوستلی دی هم‌له ځانه ســره بیا یې . برعکس او س غواړي چه نجیب ګوډاګی‌حکومت دې پر خپل ځای پاتې شي . او د عدم مداخلې معاهده د مزدور نجیب حکومت او د پاکستان د اسلامي دولت ترمینځ امضاء شوه .

وطندارانو ! په پورتنیو دلایلو مونږ دا معاهده د ملګرو ملتونو د منشور خلاف وبلله دهغې موسسې د مسلسلو فیصلو خــلاف مو وبلله غیر عادلانه یې بولو او زمونږ دمجاهد ملت د جایز او مشروع ارمان د تر سره کید و لپا ره بې چاره نه ګڼو .

مونږ په داسې حـ ل کې چه د روسانو وتل د مجاهدینو یو بري ګڼو ترهغو به خپل مسلحانه جهادته په قاطعیت سره ادامه ورکوو ترڅو د روس یو پوځي هم په افغانستان کې پاتې وي او په کابل کې‌دروس ګوډاګي حکو مت چه د روسي پوځ یو جز دی له مینځه نـه وي تللی که روسان د مجاهدینو د فشار په وجه ځي هم خو که مزدور حکومت لا پاتې وي مونږ د روسانو مستقیمه او مسلحانه مداخله په افغانستان‌کې پای ته رسیدلې نه بولو او تر هغو به خپل مسلحانه جهاد ته په قاطعیت سره ادامه ورکوو ترڅو د روس د مداخلې ټول اشکال له مینځه تللي نه وي .

ورونو ! زمـا یقین دی چـه روسان په افغانستان کې په تنګ شول ستاسې څخه بې ماته وخوړله چه اوس وځي هسې دژینو کنفرانس بې بها نه کړ . دی به حتماً وتلای او حتماً به وځي ، نور په شرمونو وشرمید .

ای مجاهده ! ستا دې خالې لاسو دا ببرسر او لوڅو پښو دې وشرماوه ، خدای (ج)دې وشرماوه .

دا ځکه چې الله پاک (ج) ستا ملګری دی د الله پاک (ج) فرشتې ستا ملګری دي .

دی به حتماً وځي ، دی وشرمیدی اوده ماته وخوړله . اوس داسې حالات بې راوستل چه غواړي دا شرمیدلی شکست ته یو سیاسي

برى ورپه برخه کړى .

موږ چې دا مقدس جهاد صرف او صرف دلوى خداى (ج) په امر او مرسته پيل کړى د ى ا و د هغه په مرسته ادامه ورکو . لکه چه په تش لا س چه مو جها د پيل کړ او ر و س مو پرګندو ک ړ اوس چـه تر پخوا د وسايلو په لحاظ ډير قوى يو نو که روس ووځى نو ز ه هم فکر نه کوم چه د هغه مزدور حکومت دى د يو ځو ورځو دپاره دا ستاسى مجاهدينو په مقابل دکې مقاومت توان ولرى .

زما يقين دى چه انشاء الله تعالى دوى اودا ددوى ټوله وسله چه اوس يې روسان ورته را استوى ا و يا يې وعده ورسره کړيده چې ورته رااستوى به يې . دغه ټوله به ستاسى مجاهدينو په لا س کى لويږى انشاء الله نهايى فتح او نصرت د مجاهدينو په لاس کى دى او په برخه يې دى .

دا ځکه الله پاک (ج) فرمايلى دى چې «نصرو من الله وفتح القريب» زمو نږ د فتح او نصرت نشانى همدا ا و س ليد ل کيږ ى . تا سى و ر ته وګورى چه ر و سا ن لا تر اوسه له افغانستان څخه وتلى نـه دى چې ولسوالۍ يو په بل پسې تسليميږ ى او دوى خپل خلقيا ن هـم پـدى مجبور و ى چه عقب نشينى و کړ ى ملت دا دى چې پوهيږى چې دا ټول وسايل او داخلـيان او پرچميان دا به ټول د مجا هد ينو پـه لاس ژوندى ورځى . ز مـا خپلو ورونو ته د ا درخواست دى چې لکه څنګه چـې د مصيبت ا و تکليف په و خت کى يې صبر ه نشو ل ا و په پوره صبراو متانت يې دا تکايف برداشت کړ او ويې زغملو . اوس چې دفتح اونصرت وخت رانژدې شوى دى هم د صبر او ثبات څخه کار واخلى ، وضعه او حالات ډير حساس د ى .

روس پرګندو شوو اوس حتمى ځى ، دده نظام حتمى سقو ط کو ى خو اوس به روس خپل ټو ل توان په کار اچوى چې پدغه آخرى لحظو کى زما او ستا د ا کاميابى په ناکامى رابدله کړى .

نو زه وايم چې مو ږ بايد ثابت قدمه واوسو لکه څنګه چې مو په صبر او متا نت دى جهاد ته تراوسه ادامه ورکړې همد ى صبر او متانت او د الله پاک (ج) دلارى صحى ساتلو باندى متمسک اوسو ، وار خطا بايد نشو ، خپلى کډ ى همد ا ا و س بار نکړو ، د روسانو په تبليغ مونږ خطا نه و ځو ، تر ځو چې د روس آخرى عسکر وتلى نه و ى او هلته ستا سى له خوښى سره سم يو ا سلامي نظام منځ ته نه و ى راغلى ؛ خپل جها د ته به دوام ورکوو انشاء الله بل ځل به دثور اوومه ورځ انشاء الله تعالى که موږ پدى جهاد باندى ثابت قدم ا و صا بر واوسيږو د افغانستان پـه آزاده فضا کى و غندو .

تاسى دپاکستان د صدر جنرال محمد ضياء الحق صاحب او د صدراعظم جونيجو صاحب بيان دايو ځو ورځى دمخه واوريد زه د هغه بيان ستاسى داطمينان د پاره وايم هغوى په خپلو بياناتو کـــى د ا اطمينان مهاجرينو ورونو ته ورکړ چې هيڅو ک به په زور سر ه مهاجرين د پاکستان څخه ونه باسى اوهيڅ ډول کومکو نه به پر مهاجرينو نه قطع کيږى . بلکه د پخوا په شان به دا کومکونه جارى و ى .

دوى دواړو داتعهد ا کړى دى چه تر هغو به مهاجر په پاکستان کى اوسى تر ځو په افغانستان کـى حالات دمهاجرو او مجاهدو په خوښه سازګاره شوى نه وى . موږ په دوى دواړو د مسلمانانو په حيث او ددى مسلما ن ملت د قا يد ينو پـه حيث اعتماد کوو .

دوى وائى چه په تاسى باندى به کمک نه بنديږى او تاسى به هيڅوک په زور نه باسى او ترڅو په افغانستان کى حالات ستاسى په خوښه عادى شوى نه وى تاسى ته به څوک نه وايى چه له دى ځايه بارشى او به هغوى

باندی اطمینان پکار دی .

نو پدی اساس وروڼو ، موږ او تاسی باید صابر او ثابت قدمه او سو له چیری په مهاجرینو کی داسی کسان وی چی هغه مذهب او د سستی عقیدی خاوندان وی تاسی د هغو سره مرسته و کړی او پوه ئی کړی . چه روسانو ډیر ایجنټان دلته رااستولی دی چی په مهاجرینو کی روحی شکست پیدا کړی .

که چیری په کمپونو کی ستاسی سره د کمشنری څوک بدوضیعت و کړی او پولیس څوک بد وضیعت کوی پدی خاطرچی کوی او درته وائی چی ځی تاسی هغوی په گوته کړی او په دی هکله زموږ سره تماس ټینگ کړی .

زما یقین دی چی دپاکستان دحکومت منسوبین اکثراً ښه خلک دی دوي زموږ او ستاسی ډیرخدمتونه کړی دی اوزما درخواست دپاکستان انصارو او پاکستانی کمشنریو او پولیسو د پاکستان ، دحکومت منسوبینو او ددی وطن ولس ته دادی چي تراوسه مو زموږ دمهاجرینو ډیر قدر او عزت وکړ تر او سه مو ډیر بوج او بار واخیستی تراوسه مو دوروری په فضا کی موږوساتلو اوتراوسه مو دانصارو مدینه غوندی مونږسره معامله وکړه .

دا یو څو ورځی دا خپل قول احسانو نه مه خرابوی . یو ډیر خراب تاجر مه اوسی چه دا دومره دمکونه دا دومره خواخوږی او دا دومره دوستی او دا دومره ښگنی تاسی د روس په دسیسه د روس په حمایه دروس په اشاره بای کړی .

او خدای (ج) نا خواسته دا مهاجر ستاسی څخه په خراب زړه ولاړ نشی .

زمادډی پاکستان ولس پرمسلمانانو یقین دی د دی پاکستان مسلمان ولس او حکومت چه کوم حمایت زمونږ د جهاد کړی دی هغه به د افغانستان په تاریخ کی نوشته وی زما یقین دی چی دا ملک ددی ملک خلک که حکومت دی او که ولس دی هوښیار دی ، دا زیرک دی ،زموږ او ددوی دمشترک دښمن په دسیسو پوهیږی . دوی به مهاجر تر آخری ورځی پوری تر هغه ورځی پوری چه په افغانستان کی یو اسلامی نظام راځی پخپله خیبر کی دهغوا په شان دورونو



سرتیری مجاهدین پر دښمن باندې د درنو وسلو د انداخت په حالت کې

په شان وساتي اوحتی تردا اوس به هم ښه ورسره وکړی . ترڅو ښه خاطره له ځانه سره یوسي .

الله پاک (ج) د ي پا کستا ن د کافرانو او ظالمانو د تسلط څخه محفوظ ولری او توانا خدای (ج) دی په دی لوی پاک سر زمین کی اسلامي نظام رایج کړی .

عزیزانو ! څوخبری دخپل اتحاد او دتنظیمو په هکله هم تاسی ته کول غواړم د اتحاد په مسئله زما عرض دادی چه اوس الحمدالله تر پخوا ډیر دا تنظیمونه سره نژدی شوی دی .

په هفته کی حد اقل دوه وار دا تول مشران سره کینی او د اتحاد یو مشترک دفتر لری او داسی وختونه راځی چه مسلسل یوه هفته هم سره ناست وي او پر مسایلو باندی بحث کوي.د مجاهدینو انتقالی

حکومت‌هم تعین‌شوی دی‌اوبه‌مناسب فرصت کی به په‌کار شروع وکړی .

بل دا چه هئیتونه انتخاب شوی دی او لیږل‌شوي دي دننه افغانستان ته .هغوی اوس د سروی او مطالعی په حال کی دی خو په افغانستان کی دننه د مجاهدینو د حکومت د پاره یوځای ولتوی . بل دا چه د افغانستان د انتقالی اسلامی دولت قانون جوړ شوی دی زه د اتحاد د عالی شورا د منشی په حیث په تاسی باندی دا زیری کوم چه دا قانون جوړ شوی دی او د مشرانو د عالی شوری څخه پاس شوی دی .

د مجاهدینو په مینځ کی د اختلاف د رفع کیدو دپاره هم همدا اوس د اتحاد په سطحه یوه مقتدره قضائی کمیته جوړه شوی ده .

بل کار چه شوی دی هغه دادی چه د افغانستان د بیا و دانولو دپاره یوه کمیته همدا اوس تعین او په کار بی پیل کړی دی .

بل کار دا شوی دی او آوازه ده چه روسان غواړی چه د افغانستان د جنوب څخه ووځی او په شمال‌کی ځان تینګ کړی .

نو داتحاد عالی شوری پدی باندی کافی دقت کړی دی او پروګرامونه بی جوړ کړی دی څو د دی کار مخ نیوی وکړی‌د افغانستان دتجزیی مخ نیوی وکړی .

بله خبره داده چه‌دمی په «۱۵» لکه څنګه چی روسانو وعده کړې ده چی له افغا نستان څخه به په وتلو شرع کوی‌نو مجاهدینودا فیصله کریده چه په کده به دا ټول تنظیمونه یو ډیر قوی عملیات په لاره اچوی .

دوستانو عزیزانو ! روس دا داسلام او زما او ستا د عزت او خاوری دښمن اوس په نظامی ساحه‌کی‌شکست خوړلی دی دوی پخپله هم اعتراف کوي هر چاته هم وائی . حتی وزیر بی دلته پاکستان ته راغلی و او چاته بی ویلی و چی دا خلک ولوکه وسله تلری خو جنګی دی او موږ چی خپلو طرفدارانوته هر څومره وسله ورکوو خو جنګ نشی کولی .

ده خپله دا اعتراف وکړ چه که دوی ته هر څومره وسله ورکړو خو چی جنګ نشی کولی آخر موږ به دوی څه وکړو .

نو دوی اوس غواړی چه دا خپل شکست په یوه سیاسی مانور او په یوه سیاسی فعالیت جبران کړی ضمناً ما دا خبره تاسوته وکړه چون دا مهمه ده .

زه بیا تاسوته عرض کوم چه‌هوښیار اوسو څوداسی کار ونکړو چه دروس په مقابل کی دا ګټلی جنګ خدای (ج) نا خواسته په دایوخوهیاشتو کی دروس په دسایسو بایلو .

زما دایقین دی لکه .. چی .. څه درته وویل بله اوومه دنور به په افغانستان کی انشاالله تفیح دوو زما دایقین دی چه جهاد دافغانستان به کامیابیږی دیری پاکی وینی به دی لاره کی دانډیوالانو توئی شوی دی ډیر مخلص کسان شهیدان شوی دی داسی‌کسان په میلیونونو شهیدان شول .

اضافه لر میلیون د چاسره چی‌د هیڅ چوکی او دارایی غم نه وو، چا چه سرف او صرف دالله پاک (ج) د دین دحمایت‌او دده دکلیمی‌دسرلوړی د پاره ځان قربان کړی دی اوبس .

ډیرمعصوم کوچنیان‌چه هغوی هیڅ ددنیا ترخی اوخوږی ندی‌لیدلی اوهیڅ لوع امید د زنده‌کی د چوکی او منصب تلری دایتیمان شول ډیر کورونه دیتیمانو ډک دی او ډیری کونډی ، ډیری سیاسری زمونږ او ستاسی د میره دسرپرستی‌نه محرومی شوی دی د هیڅ یوی ښځی دا په ذهن کی هم نګرځی چه د افغانستان پر تخت کښینی .

دوستانو ! داسی‌مخلص کسا ن شهیدان شول ، چه ما در ته وویل چه د هغوی هیڅ مادی تمه په دی جهاد کی نه وه نو الله پاک (ج) به دا وینی انشاالله نه ضایع کوی .

باقی په ۳۳ مخ کی

په څمکنوکې د ځنیواد غیرعادلانه تړون د ردولو په مناسبت غونډې ته د ډاکتر فاروق اعظم وینا :

# په دې حساسه مرحله کې کوم شی چې روس د جنګ په ډګر کې بایللي دي غواړي چې د سیاست په میدان کې یې جبران کړي

درود پر محمد (صلی الله علیه وسلم) باندی وواياست حمد اوثنا دی الله پاک لره وی چا چی مونږ د ځمکی پر مخ خپل خلیفه تا کلی یو. درود او صفت دی د هغه په رسول پاک وی چا چی مونږ ته د دغه خلافت لار او اصول ئی را ښودلی دی. درود دې د ده په اصحابو کرامو وي چا چي مونږ ته د دغه خلافت عملی تجربه را ښودلی ده.

او د چا په حق کی چی پخپله لوی خدای (ج) فرما ئیلی دی چی «اشداء علی الکفار رحماء بینهم» درود دی زمونږ په امامانو وی چا چی په نه ستړی کیدو نکی زیار دا لار روښانه ساتلی ده.

رحمتونه دی د اسلام خصوصاً د افغانستان په شهیدانو وي چا چی د خپلو وینو په بیعه دا دین ساتلي دی رحمتونه دې د افغانستان پر مجاهدینو وي چا چی صرف او صرف د اسلام د سر لوړی، او د خپلی مقدسی خاوری د دفاع په منظور د زمانی د یو لوی شیطانی طاقت یعنی روس ګولیو ته سینی سپر کړی دي. رحمتونه دې په مهاجرینو وی چا چی د دی وطن سختی ګرمی، او یخونه ګاللي دي. رحمتونه دی په حاضر مجلس وي چا چی صرف د خپل دین او مشروع حقوقو د دفاع په لار کی دوسره زحمتونه پر ځان منلي دی.

اما بعد :

**فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الم ترکیف فعل ربک باصحب الفیل ٥ الم یجعل کیدهم فیه تضلیل ٥ وارسل علیهم طیرا ابابیل ترمیهم بحجارة من سجیل ٥ فجعلهم کعصف ماکول ٥**

عزیزالو ګرمی ده. زمونږ د مجلس اصلی موضوع د ژنیو تړون دی او زمونږ ننني کنفرانس د ژنیو پر موضوع او پر اړونده مسائللو جوړ شوی دی.

د ژینو مذاکرات چی تیره پنجشنبه د یوی معاهدی په امضاء پای ته ورسیدل نن زمونږ د مؤمن ولس سره د یوی سیاسی موضوع په حیث مطرح ده. مونږ دی مذاکراتو ته د ابتدا څخه په شک کتلي او هغه مو د افغانستان د قضیی د یو جامع او عادلانه حل لپاره مؤثر نه دی ګڼلی.

نو طبعی ده چی د داسی معاهدی په احترام او عملی کیدو مکلف نه یو. مونږ ته دا معاهده په دی خاطر د منلو وړ نه وه او نه ده چی:

اول : دا د ملګرو ملتو د مؤسسی د منشورخلاف ده.

د ملګرو ملتو د مؤسسی په منشور کی په صراحت ذکر دی چه دولسونو د سرنوشت د تعین حق خپله د ولسونو سره دی. په دی معاهده کی دا اصل چی د منشور د ملل متحد

دی نه دی راغلی او څلور اساسی بند و بیدا نشته .

دوهم : دا د ملل متحد د مسلسلو فیصلو چی په هغه کی هم د افغانستان د ملت د سرنوشت حق خپله د دی مسلم ملت حق بولی ذکر نه دی شوی نو ځکه موږ ددی معاهدی سره توافق نه درلود .

دریم : - د ملل متحد د فیصلو د صریح حکم په خلاف ده . معاهده چی کوم وایي ، د قضیي د ټولو اطرافو سره باید تماس ونیول شی او عاجل ونیول شی او د افغانستان د قضیي یو عادلانه حل باید پیدا شی . موږ په داسی حال کی چی په افغانستان کی په واقعیت سره وایو چی د وه اطرافه جنګیږی .

یو روس د یوه متجاوز طاقت په حیث بل همدا د افغانستان مجاهد ملت د افغانستان د مدافع په حیث په دی مذاکراتو کی روس د روس دخوشحالی لپاره وتلی دی او مجاهدین هم د روس د خوشحالی لپاره د مذاکراتو څخه ایستل شوي . نو ځکه موږ د دی مذاکراتو ته د ابتدا نه په شک کتلی دی او فکر مو کړی دی چه زموږ د مجاهد ملت منافع پکښی خوندی کیږی نه .

تصور وکړی چه دا څومره عجیبه خبره ده چی د ژینو په معاهده کی روس ، امریکا د کابل د ګوډاګی حکومت او پاکستان سره په دی مذاکره باندی امضاء کوی په داسی حال کی چی د دی مجاهد ملت واقعی ممثلین چی دا همدا مشران دی همدا تاسی خلک یاست وجود نلری او د افغانستان په تمثیل د افغانستان په نمایندګی د روس د قواؤ یو جزء د روس د پوځ جزء چی هغه د کابل ګوډاګی حکومت دی هغه امضاء کوی .

اوس روسانو ددوو میاشتو په ترځ کی دوتلو وعده کړی ده او په دی شرطیی کړی دمعاهدی سره چه معاهده به امضاء کیږی بیا به دوی وځی . پس داد ملل متحد دمنشور دفیصلو خلاف ده او په دی کی دروسانو یو چل دی .

څلورم : روسان ددی په ځای چی تعهد وکړی چی بیا به دافغانستان په داخلی امورو کی مداخله نه کوی اود خپلو پوځونو دوتلو سره سم به خپل مزدور حکومت چی ددوی د ټانکو پرسر راغلی دی هم د ځان سره بیابی برعکس غواړی چی د نجیب ګوډاګی حکومت په افغانستان کی د دی معاهدی په برکت ځای پر ځای وساتي . او شرائط داسی برابر وي چی دامعاهده دی د کابل د مزدور حکومت اود افغانستان د مستقل حکومت په منزله راشی .

**ګرانو وطنوالو : په پورتنیو** دلایلو دامعاهده دملل متحد دمنشور او فیصلو خلاف غیرعادلانه اوزموږ دمجاهد ملت دجائز اومشروع ارمان دترسره کیدو لپاره چاره نه ګڼو .

موږ په داسی حال کی چه د روسانو وتل دمجاهدینو بری ګڼو . تر هغو خپل مسلحانه جهاد ته په قاطعیت ادامه ورکوو ترڅو دروس یو پوځی هم په افغانستان کی پاتی وی او تر هغو به دی جهاد ته ادامه ورکوو څو چی دروس د پوځ جزء ( دکابل ګوډاګی رژیم) سقوط وکړی که روسان نن داستاسو مجاهدینو دفشار په وجه وځی هم ، که روسان نن ستاسی دلاسه ناکامیږی اوشکست خوری او وځی هم ، خوکه مزدور حکومت یی پاتی وی موږ دروسانو مستقیم اومسلحانه مداخلت پای ته رسیدلی نه بولو . ترڅوچی داګوډاګی حکومت په افغانستان کی وی په حقیقت کی روس مستقیمه مداخله لري او موږ دهغه په مقابل کی قاطعانه جهاد ته ادامه ورکوو .

موږ دامقدس جهاد صرف اوصرف دلوی خدای(ج) په امر اوپه مرسته پیل کړی دی او هغه ته به ترآخری بری ادامه ورکوو . لکه په تشلاس موږچی جهاد پیل کړ او روس موږ په

گوندو کړ اوس تر پخوا دوسالو په لحاظ ډیر قوي یوه توکه روس و وځي نو زه فکر کوم چه دغه مزدور حکومت به دیو څو ورځو لپاره هم ستاسي مجا-هدینو په مقابل کي مقاومت و نکړي. که روسان هرڅومره وسله دي مزدور حکومت ته ورکړي زما یقین دی چه انشاالله تعالی دوی او دا وسله به ټول همداسي ستاسي مجاهدینو لاس ته پریوځي او انشاالله د روس په دی وسله به اسلامي نظام بیا تاسي ټایموی.

## نصر من الله وفتح قریب

## گرانو عزیزانو!

مونږ دجهاد او مهاجرت په دغه مر-حله کي دټولو دغو کسانو اودولتونو چي زمونږ سره يي مرسته کړي د ه شکریه کوو. مونږ دډنیا ټول مسلمانان ورونه گڼو. افغانستان داسلامي امت یو جزء دی او قضیه يي هم د ټول مسلم او مسلمه ملت قضیه ده.

مونږ دلږی له ټولو مسلمانانو نه په دغه حساسه مرحله کي د مرستي غوښتنه کوو خصوصاً پاکستان او ایران ته زمونږ هیله ډیره زیاته ده. مونږ خو-خوشحاله يو چه ورمه ورځ دپاکستان ورور هیواد صدر او صدراعظم دواړو افغان مهاجرینو ته اطمینان ورکړ چي څوک به دوی په زور د پاکستان څخه نه باسي. تر هغو به مهاجر همدلته د پخوا په شان اوسیږی تر څو په افغانستان کي حالات دمهاجرو په خوښه سم نه وی راغلي، تر هغو به مهاجر افغانستان ته نه ځي تر څو په افغانستان کي یو اسلامي نظام قائم شوی نه وی. دوی دا تعهد هم کړی دی چي د دوی مرستي به افغانانو ته د پخوا په شان جاري وی

## زمونږ د خپل مجاهد ولس په هوښیاري صبراو دوراندیشي یقین دی

